د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د تصاويبو مديريت

د متحدالمآلونو څانګه

نېټه: ۲۴/ ۱۲/ ۱۴۴۴ هـ ق

مصادف: ۲۱/ ۴/ ۱۴۰۲ هـ ش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د متحدالمآل ګڼه: ٦١

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته

وبعد: په تاريخ ۱٤٤٤/۱۲/۱۷هق چې د ۱٤۰۲ هجري لمريز کال د سرطان د مياشتې د څوارلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې څلورمه موضوع داسې وه: ((د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۱۱) مورخ ۱٤٤٤/۱/۳۰ هق مطابق هغه موضوعات چې د تميز لخوا نهائي کيږي غير قانع جانب يې تر درو ورځو پورې د تجديد نظر غوښتلو حق لري اوس پوښتنه داده: چې هغه موضوعات چې په ابتدائيه او استينافي مرحله کې قطعي کيږي د اصولو مطابق خو مرافعه او تميز نه لري د تجديد نظر حق لري او که نه؟ که د تجديد نظر حق ولري د تجديد نظر غوښتلو موده يې د پورته ذکر شوي متحدالمآل مطابق درې ورځې ده او که څنګه؟))

د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(٤٥)مورخ ۱٤٤٤/۱۲/۱۷هق مصادف ۱٤۰۲/٤/۱٤هش د څلورمې پريکړې په اساس په لاندې ډول هدايت وکړ:

((هغه فيصلې چې په ابتدائيه او استينافي مرحله کې د اصولو مطابق قطعي سي د يادو فيصلو غير قانع جانب لکه د مرافعې او تميز حق چې نلري همداسې د تجديد نظر حق نه لري.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د سترې محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af